د بانکي څارنې لوی آمریت

آمریت عمومی نظارت بانکی

DA AFGHANISTAN BANK

د افغانستان بانک

شماره: RSR ۱۳۶۹۸۱ ۱۴۱۲۳۵/۱۴۱۱

تاریخ: ۱۴۴۲/۱۰/۲۱

ټولو قدرمنو مجوزو بانکونو ته!

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اَللَّهِ وَبَرَكَاتُه و بعد:

**موضوع:** د بانکونو د پیرودونکو د بانکي حسابونو څخه د فیسونو او کمیشنونو د اخیستلو په اړه

**ماهیت:** متحدالمال

له درناوي وروسته؛

ددې اداري د ۱۲۷۰۵ ګڼې ۱۳۹۸/۱۲/۲۹ نېټې متحدالمال په تعقیب ټولو بانکونو ته هدایت ورکول کېږي:

هغه بانکونه چې د (Customer Protection) مقررې، د پیریدونکو د شناخت (KYC) فورم او قرارداد مطابق بانکي حساب لرونکو ته خدمات وړاندې کوي، د فیس او کمیشن کچه یې باید د یادو مواردو او مقررې مطابق عیار او د پیریدونکو د رضایت پر اساس وټاکل شي.

همدارنګه هغه بانکونه چې اوس مهال اړین بانکي خدمات نلري او د بانکي حسابونو څخه پیریدونکو ته پیسې نشي ورکولای په همدې حال هم د هغوی د بانکي حسابونو څخه د اړوندې مقررې، قرارداد او پېژندنې (KYC) فورم خلاف او د پیریدونکو د رضایت نه پرته د هغوی د بانکي حسابونو څخه فیس او کمیشن وضع کوي، ورته اعمال د افغانستان بانک د لارښونو خلاف عمل دی او د سوداګریزو بانکونو مسئولین اړ دي چې یاد بهیر هر څومره ژر ودروی او یاد مبالغ بیرته د پیریدونکو بانکي حسابونو ته ولیږدوی.

پورته موضوع ټولو بانکونو ته اخبار شوه او د افغانستان بانک د وخت څخه په ګټې اخیستنې ستاسو د بریاوو غوښتونکی دی.

درنښت

۱۴۴۲-۱۰-۲۱

هدایت الله بدری

د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس